## د امام غزالی رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه

# تعلیمات

**28-January-2021**



هفته وار د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# د امام غزالی رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ تعليمات

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ اللہ　　وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ اللہ
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ اللہ　　وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ اللہ

**نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَافِ** (**ترجمه:** ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې كله جُمات ته داخل شئ نو د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر څو پورې چې په جُمات كښې ئې نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي. دلته دا خبره ياده ساتئ چې د اِعتِكاف نِيَّت صرف خوراك څښاك يا اُوده كيدلو د پاره كول نه دي پكار بلكه چې مقصد د **الله** تعالیٰ رِضا وي. "**فتاویٰ شامی**" كښې دي: كه څوك جُمات كښې خوراك څښاك يا اُوده كيدل غواړي نو د اِعتِكاف نِيَّت دِ اوكړي، لږ ساعت دِ ذِکۡرُ الله اوكړي بيا چې څه غواړي كولے شي (يعني بيا كه غواړي نو خوراك څښاك كولے شي او اُوده كيدے شي) كه كيدے شي نو د اِعتِكاف د نِيَّت كولو نه پس دولس ځله دُرُود شريف اووائې يا بل يو نيك كار اوكړئ. اِنۡ شَآءَاللّٰہ ثواب به مو زيات شي او ورسره ورسره به ستاسو د پاره په جُمات كښې خوراک څښاک او اُوده كيدل وغيره هُم جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

**نبیِّ کریم رَءُوۡفٌ رَّحِیۡم** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: چا چې په كتاب كښې په ما دُرُود

شريف اوليکلو، تر څو پورې چې زما نوم په هغې کښې ليکلے پاتې وي، فرښتے به د هغه د پاره مسلسل د بخښنې دُعا ګانې کوي.[1]

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوړو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "**نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌمِّنْ عَمَلِهٖ**" د مُسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[2]

**مَدَني ګل**: نيك او جائز کار کښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات کيږي.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

❁ ښو ښو نِيَّتونو سره د شروع نه تر آخرې پورې بيان واورئ ❁ پوره تَوَجُّه سره د بيان اوريدلو نِيَّت اوکړئ ❁ که قلم او ډائري لرئ نو د اَهَمو نکاتو نوټ کولو نِيَّت هُم اوکړئ.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د اِمام غزالي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د والِد صاحب قابِلِ تقلِيد عمل

د پينځمې صدۍ هجرۍ خبره ده، د ايران د زړے تاريخي صوبے خُراسان په ضلع طُوس کښې به د **الله** پاک يو نيک بنده اوسيدلو، د هغوئي خپل نوم هُم محمد وو د والِد

1...معجم اَوسط، جلد:1، صفحه:497، حديث:1835۔

2 (معجم کَبِير سهل بِن سعد الساعدى...الخ، حديث)

صاحِب نوم ئې هُم **محمد** وو او د نيکه مبارک نوم ئې اَحمد وو. ډير متقي او پرهيزګاره وو، خواري **محنت** به ئې کولو او په خپل لاس به ئې ګټله او صرف حلاله به ئې خوړله، وړۍ وريښل او د هغې نه تار جوړل او د هغې تِجارت کول د هغوئي پيشه وه. تار ته په عربۍ کښې "**غَزْلٌ**" وائي، په هُم دې نِسبت دغه خاندان ته خلقو **غزالي** وئيل شروع کړل. شيخ **محمد** بِن **محمد** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به عُلماء سره ډيره مينه لرله، عموماً به د **عاشِقِ رَسُول** عُلماء په خدمت کښې حاضريدلو، هغوئي سره به ئې نيک سُلُوک کولو او د خپل وس مطابق به ئې د عُلماء مالي خدمت هُم کولو. شيخ **محمد** د ځوئ خواهش لرلو، د هغوئي معمول وو چې د عُلماء په خدمت کښې به کله حاضر شولو نو عاجزئ او اِنکسارئ سره به ئې، په ژړا ژړا د **الله** پاک په بارګاه کښې دُعا کوله: "اِلٰهی! ما ته ځوئ راکړې او هغه عالِم جوړ کړې." کله چې به دِيني اِجتِماعاتو کښې حاضريدلو او د عُلَمائے کرامو بيانونه به ئې اوريدل نو د زړه خواهش به ئې نور زيات شو او دُعا د پاره به ئې لاسونه پورته کړل او په بارګاهِ اِلٰهی کښې به ئې عرض کولو: "يا **الله** پاکه! ما ته ځوئ راکړې او هغه درس و بيان والا جوړ کړې."

**سُبْحٰنَ الله!** شيخ **محمد** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ځوئ پيدا کيدلو څومره ښکلې دُعاګانې کړي وې، عموماً خلق د ځوئ خواهش لري، د دې د پاره دعاګانې هُم کوي، منښتې هُم کوي، صدقے هُم ورکوي، علاجونه هُم کوي او په دې کښې څه باک هُم نشته، انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام هُم د ځوئ خواهش کړے دے، خو مونږ دُنيادار خلق چې د ځوئ سوال کوو نو د دې د پاره چې نسل مې زيات شي، ميرات نه شم، که څوک جائداد وغيره لري نو د وارِث جوړولو د پاره ځوئ غواړي خو د **الله** پاک د نيکو بندګانو طريقه اوګورئ چې هغوئي ځوئ غواړي خو صرف د علمِ دِين زده کولو، مُبَلِّغ جوړيدلو او د دين د خدمت کولو د

پاره او ځکه هُم چې نیک اولاد د مور و پلار د پاره صدقهٔ جارِیه وي. نو یاد ساتئ چې صرف د ځوئ نه، بلکه د نیک ځوئ دعا کول پکار دي، **اللّٰه** پاک دِ مونږ ته هُم د نیکو خلقو په خاطر د نیکو خو اهشاتو توفیق را کړي او د دُنیا په ځائے دِ په هره مُعامَله کښې د آخرت سوچ رانصیب کړي. **اٰمِین**

نو شیخ **محمد** رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ به په ژړا ژړا د نیک او صالِح او عالِم دین جوړیدلو والا او د درس و بیان کولو والا ځوئ دعاګانې کولې، **اللّٰه** پاک د هغوئي دُعا قبوله کړه او هغوئي ته ئې با صلاحِیَت، با هِمَّت او انتهائي نیک ځوئ ورکړو، هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د هغه نُوم هُم **محمد** کیښودلو. د هغوئي هُم هغه ځوئ چې کله غټ شو نو ډیر لوئ عالِم او ولیِ کامِل جوړ شو، او دُنیا هغوئي د **اِمام محمّد غزالي** رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ په نوم پیژني.

## ښُکلے نُوم کیښودل پکار دي

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** تاسو د شیخ **محمد** رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ حکایت واوریدلو، دا حکایت **مخې** ته کیږدئ او د خپلې مُعاشرے جائزه واخلئ. نن صبا عجیبه ماحول جوړ شوے دے، خلق عام طور د ماشومانو یو مُنفَرِد یعني د یو داسې نوم کیښودلو کوشش کوي چې په خاندان یا محله کښې د بل چا نه وي ، حالانکه د مُنفِرد یعني یو داسې نوم چې د بل چا نه وي یا ډیر کم وي هیڅ فضیلت نشته، په قرآن و حدیث کښې هُم د یو مُنفَرِد نوم کیښودلو څه ترغیب نه دے ورکړے شوے. بلکه اسلام کښې د نوم د انتخاب کولو په دوو بُنیادونو ترغیب ورکړے شوے دے: ﴿۱﴾ اول دا چې د نوم معنٰی ښه وي، د **اللّٰه** پاک آخري نبي رسولِ هاشِمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به بد نومونه نه خوښول او هغه به ئې بدلول، د **هغوئي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عادتِ کریمه وو چې بد نُوم به ئې واوریدلو نو هغه به ئې بدلولو، په یو حدیث شریف کښې اِرشاد فرمائي: انسان خپل بچي له د ټولو نه وړومبئ تُحفه د نوم

ورکوي، لِـهذا پـکار دي چې هغه له ښه نُوم کيږدي.[1] ﴿۲﴾ بيا د نُوم معنىٰ ښه کيدلو سره سره بهتره دا ده چې هغه نُوم د انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام سره يا صحابۀ کرامو، يا اوليائے کرامو سره نِسبت هُم لري. د **الله** پاک آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په نُوم کښې د نِسبَت اهتمام فرمائيلو، حضرتِ سَيِّدُنا اَنَـس بن مالِك رَضِىَ اللهُ عَنۡهُ فرمائي: يوه ورځ د سحر په وخت کښې مَدَني سرکار د دوارِو جهانو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړلو او اُوئې فرمائيل: **الله** کريم ما ته ځوئ عطا کړو، ما د هغه نُوم د خپل نيکه حضرت اِبراهِيم عَلَيۡهِ السَّلَام په نِسبَت اِبراهِيم کيښودلو.[2]

په حديثونو کښې د "**محمد**" نوم کيښودلو ډير فضيلت بيان شوے دے. د حضورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دوه حديثونه واورئ! ✿ څوک چې په عِشقِ مُصطَفىٰ کښې، د بَرَکت د پاره د خپل ځوئ نُوم محمد کيږ دي، هغه او د هغه ځوئ به جَنَّت ته ځي.[3] ✿ چا چې د بَرَکت د پاره زما په نُوم، نُوم کيښودلو، تر قيامته به سحر او ماښام په هغه برکت نازليږي.[4]

آنکھوں کا تارا نامِ محمد		دِل کا اُجالا نامِ محمد
شیدانہ کیوں ہوں، اس پر مسلماں		رَبّ کو ہے پیارا نامِ محمد
روزِ قیامت میزان و پُل پر		دے گا سہارا نامِ محمد [5]

---

1... جَمْعُ الْجَوَامِع، جلد:3، صفحه:285، حديث:8875۔

2...مسلم، كتاب الفضائل، صفحه:909، حديث:2315۔

3... كَنْزُ الْعُمَّال، كتاب النكاح، جلد:16، صفحه:175، حديث:45215۔

4... كَنْزُ الْعُمَّال، كتاب النكاح، جلد:16، صفحه:175، حديث:45213۔

5...قبالۂ بخشش، صفحه:133،134۔

افسوس! مونږه د يو مُنفرد نوم کيښودلو په خواهش کښې د دومره فضيلتونو نه محرومه پاتې شُو. اے **عاشقانِ رَسُول!** د خپل يو ځوئ نُوم نه بلکه د ټولو نُومونه محمد کيږدئ، که ډېر شي نو څه باک دے؟ د شهيدِ کربلا حضرتِ سَيِّدُنا امام حُسين رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د درې وارو شهزاد ګانو نومونه **علی** وو. د مشر ځوئ نوم ئې علي اکبر وو، دمينځني نُوم علي اَوسَط او د کشر نُوم علي اصغر وو.

د اميرِ اَهلِسُنَّت **حضرت علّامه، مَولانا، محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د نوم کيښودلو طريقه هُم ښکلې او د حِکمت ډکه ده اميرِ اَهلِسُنَّت عام طور محمد کَږدي او د فرق کولو د پاره ورسره يو بل ښه نُوم شاملوي مَثَلًا: نُوم محمد او د فرق د پاره ورسره بل نوم اِبراهيم، وغيره] **الله** پاک دِ مونږ ته هُم توفيق راکړي چې د خپلو بچو د ښو نسبتونو والا نومونه کيږدو او برکتونه حاصل کړو.

## د امام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مختصر تعارُف

امام محمد بِن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د پينځمې صدئ مشهور او اوچته مرتبه لرونکے شخصيت دے، هغوئي په 450 هجري کښې په طابَران، ضلع طُوس، صوبه خُراسان کښې پيدا شو. د هغوئي نوم محمد، د هغوئي د والِد صاحب نوم محمد، د نيکه نُوم محمد او د نيکه د والد نُوم هُم محمد وو او د نيکه د نيکه نُوم ئې احمد وو. د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ځامن هُم وو: اِمام حامِد غزالي، دوئي هُم ډېر ماهِر عالِمِ دِين وو، هُم د دوئي په نسبت هغوئي خپل کُنيَت اَبُو حامِد کيښودے دے. امام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډېر زبردست عالِمِ دِين وو، په عِلمِ فِقه، عِلمِ کلام، فَلسَفه او تصوّف کښې ئې کامِل مهارت لرلو، د هغوئي د علمي شان و شوکت او دبدبے په وجه د هغه وخت وزيرِ اعظم نِظامُ الدِّين اَلمَلِک هغوئي ته د **زَيْنُ الدِّيْن** (يعنی د دين ښائِست)او د **شَرَفُ الْمِلَّة** (يعنی د اُمَّت عزت) لقب ورکړو. د هغوئي يو لقب

دے: **اِمَامُ الۡبَحۡر** (يعنى د علم و فن امام) هُم دے، د هغوئي استاد **اِمامُ الۡحرَمَين** ، امام **جُوَيۡنِى** رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه به فرمائيل: **اَلۡغَزَالِى بَحۡرٌ مُغۡدَّقٌ** يعني غزالي د عِلم چپے وهونکے سمندر دے.[1] اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په **فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه** کښې امام غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د ''حکيمُ الاُمَّت'' په لقب ياد کړے دے.[2] امام غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه به په اسلام باندې اعتراض کوونکي بد مذهبه او کافران په خپلو مضبوطو دلائلو خاموشه کړل، ځکه هغوئي ته **حُجَّةُ الۡاِسلام** (يعني د اسلام دليل) هُم وائي. هغوئي ته ډير حديثونه ياد وو، د هغوئي د علم چرچے په دُنيا کښې خوَرے وې، لويو لويو علماؤ به د هغوئي نه فيض اخستلو خو د علم دومره شوق ئې لرلو چې د آخري عمر پورې ئې عِلمِ حديث زده کولو او په عِلم حاصلولو حاصلولو کښې د دُنيا نه رُخصت شولو، هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د 55 کالو په عُمر کښې په 14 **جُمادَى الۡاُخۡرىٰ** 505 هجري کښې د دُنيا نه سفر اوکړو، د وفات په وخت کښې ئې د حديثونو مشهور کتاب **بُخاري شريف** په سِينه د پاسه کيښودے وو [3] عَلَّامه اِبنِ جَوزي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: امام غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه سحر رابيدار شو، اودس ئې اوکړو، د سحر لمونځ ئې ادا کړو، بيا ئې کفن را اوغوښتلو، سترګو ته ئې اولګولو او دا ئې اُووئيل: زما د **ربّ** حُکم په سر سترګو، دومره ئې اُووئيل او مخ ئې قبلے ته کړو او ښپې ئې خورې کړې. چې خلقو اوکتلو نو رُوح مبارک ئې ختلے وو. د هغوئي مزار مبارک د طُوس، ضلع خُراسان په ''مقابِرِ غزالي'' نومې قبرستان کښې دے. [4]

---

1...طبقات شافعیہ کبریٰ، پانچواں طبقہ، جلد:5، صفحہ:171۔

2...فتاوی رضویہ، جلد:4، صفحہ:528۔

3...اَلۡمُنۡتَظَم، جلد:17، صفحه:127۔

4...اَلثَّبَات عِنۡدَ الۡمَمَات، صفحه:178۔

## امامِ غزالي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه مُجَدِّد دے

په حديث شريف کښې دي: بے شکه **الله** پاک به د دې اُمَّت د پاره په هره صدئ کښې يو مُجَدِّد راليږي، چې هغه به د دين تجديد کوي. (1) علماء فرمائي چې: امام غزالي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د پينځمې صدئ هجرئ مُجَدِّد دے.(2)

## يوې خبرې ئې حالت بدل کړو

امام غزالي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د پينځلَّسو کالو وو چې والد محترم رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ئې د دُنيا نه پرده اوکړه. چنانچه د کور معاشي حالات ئې تنګ شو خو د دې باوجود امام غزالي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د مدرسے رُخ اوکړلو او علمِ دِين زده کولو کښې مصروف شولو. ابتدائي تعليم ئې د خپل والد صاحب دوست امام احمد بِن محمد راذکاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه حاصل کړو، بيا ئې جُرجان ته تشريف يوړلو، هلته ئې د اِمام اَبُو نصر اسماعيلي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه عِلم حاصل کړو، بيا ئې نيشاپور ته تشريف يوړلو او ډيرو کلونو پورې ئې د امامِ حَرَمين امام جُوَيني رَحْمَةُاللهِعَلَيْه نه علمِ دِين حاصلولو. (3)

د امام غزالي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه معمول وو چې څه به ئې د اُستاذ نه زده کول هغه به ئې ليکل او د نوټسونو په شکل کښې به ئې ځان سره محفوظه کول. چې کله هغوئي بيرته جُرجان ته تشريف راوړلو نو په لاره کښې ډاکوانو حمله اوکړه او د قافلے ټول سامان ئې لُوټ کړو، په دغه حادثه کښې د امام غزالي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه عِلمي نوټسونه هُم د ډاکوانو په لاسو کښې لاړل. دوئي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ډير خفه شولو، چنانچه د ډاکوانو د سردار خوا ته ورغلو او د **الله** پاک په

---

1...ابو داؤد، کتاب ملاحم، صفحه:674، حديث:4291۔

2...اِتِّحَافُ السَّادَه، جلد:1، صفحه:36۔

3...فيضانِ امام غزالی، صفحه:10، 12، 15، ملتقطًا۔

بارګاه کښې د حاضریدلو منظر ئې وریاد کړلو او ورته ئې اُوفرمائیل چې زه صرف دومره غواړم چې زما نوټسونه راکړه، په هغې کښې ستا د فائدے هیڅ هُم نشته. په دې خبره د ډاکوانو سردار په زوره اوخندل او په دوئي پورې د ټوقې کولو په انداز کښې ئې اُووئیل: ته به په عِلم باندې عُبُور څنګه حاصل کړې؟ حالانکه ته د دې نوټسونو په تللو باندې بالکل [د علم نه] خالي شوې.

بس دې جُملے د امام غزالي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په زړه سخت اثر اوکړو، فرمائي چې: زه پوهه شوے ووم چې دا خبره د ډاکوانو سردار نه وه کړې بلکه زما د رهنمائي د پاره **الله** پاک د هغه د خُلې نه ویستلې وه، چنانچه ما نوټسونه ځان سره واخستل او خپل وطن ته چې اورسیدلم نو پوره درې کاله مسلسل کوشش مې اوکړو او په هغه نوټسونو کښې لیکلې مسائل مې ټول حِفظ کړل. (1)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** تاسو اولیدل چې امام غزالي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د شروع نه خپلې اصلاح طرف ته څومره مُتَوَجِّه وو، هغوئي چې دډاکوانو د سردار خبره واوریدله نو بده ئې اوُنه ګڼړله او نه ئې هغه خپله بے ادبي اوګڼړله بلکه د هغې نه ئې سبق حاصل کړو او د آئنده د پاره ئې خپل عِلم داسې **محفوظه** کړو چې بیا ترینه چا هډو غلا کولے نه شو.

## د مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي د حِکمت نه ډکه جُمله

یو اسلامي ورور چې هغه د جُمات اِمام هُم دے، د هغه بیان دے چې زه **مخکښې** په دُنیاداری کښې مصروف ووم، جُمات او د هغې سره مُتَعَلِّق ذِمَّه دارو سره د وابسته کیدلو زما هیڅ ذِهن نه وو، نه مې داسې سوچ کړے وو، خوش قسمتۍ سره زما مشر ورو د **دعوتِ**

1...طبقات شافعیه کبری، پانچواں طبقه، جلد:6، صفحه:195 ملخصًا۔

اسلامي ديني ماحول کښې شامل شو، هغوئي په کور کښې هُم د نيکئ د دعوت سلسله شروع کړه او ټول ورونړه ئې په ديني کارونو کښې مصروفه کړل خو زما زړه لا په دُنياداريئ کښې مشغول وو، يوه ورځ ورور زه پوهه کولم نو ما ورته اُووئيل چې زمونږ د کور ټول کسان خو په ديني کارونو کښې مصروفه دي يو نه يو کس خو د دُنياوي کارونو د پاره هم پکار دے، د دې په جواب کښې زما رورو په ډيره په حوصله سره يوه د حکمت نه ډکه داسې جُمله اُووئيله چې هغې زما په زړه پزبردست اثر اوکړو، [هغه جُمله دا وه چې] آو! ټول د جَنَّت په لاره روان دي، يو خو پکښې د جَهنَّم په لاره روان هُم پکار دے.....!! مقصد دا چې د دِين لاره خو د جَنَّت لاره ده، ټول په ديني کارونو کښې مشغول دي نو يو کس په دُنياداريئ کښې د مشغوله ساتلو دا مطلب دے چې هغه دِ د جَنَّت په لاره نه وي، بس دا جُمله مې چې څنګه واوريدله نو ذِهن مې جوړ شو، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ زه اوس عَطّاري (يعني د اميرِ اَهلِسُنَّت مُرِيد) هُم يم، د جُمات اِمام هُم يم او د خپل وس مناسب د دين په خدمت کښې هُم مصروف يم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!	صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د امام غزالي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه بغداد ته راتلل

امام غزالي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د اوګږدے مودے پورې د ايران په ښار نيشاپور کښې د **اِمَامُ الْحَرَمَيْن** امام جُوَيني رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په خدمت کښې تيره کړه او د هغوئي نه ئې عِلمِ دِين زده کولو، چې کله **اِمَامُ الْحَرَمَيْن** رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دُنيا نه سفرت اوکړلو نو امام غزالي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نيشاپور پريښودلو او بَغداد ته ئې تشريف راوړلو. بغداد هغه وخت د عِلم مرکز وو او د سلجُوق سلطنت دار الحکومت هُم وو، د هغه دَور وزيرِ اعظم **نِظَامُ الْمُلک** د عِلمِ دِين [او علماء] سره مَحبَّت لرلو، ځکه به اکثر په شاهي دربار کښې د عُلَمائے کرامو کښې وه، عُلَماء به

هلته عِلمي مُذاکرے کولې، شرعي مسائل به ئې حل کولې، بعضې وخت به چې په کومه مسئله کښې د عُلَماء اختلاف وو نو په مُهَذَّبه طریقه به د مناظرے اهتمام هُم کیدلو. امام غزالي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه چې کله شاهي دربار ته تشریف راوړلو نو د وزیر اعظم په موجودګئ کښې د ډیرو علماؤ سره د هغوئي عِلمي مُذاکره اوشوه، وزیرِ اعظم چې د هغوئي عِلمي کمال اولیدلو نو ډیر خوشحاله شولو، چنانچه وزیر اعظم امام غزالي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه ته د بغداد په مشهوره جامعه نظامیه کښې د شیخُ الجامِعه عُهده پیش کړه. هغه وخت د اِمام غزالي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه عُمر تقریباً 34 کاله وو.

څلورو کالو پورې امام غزالي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه په جامِعه نِظامِیه کښې درس و تدریس کولو، دغه وخته پورې د هغوئي د عِلمي شان و شوکت چرچه د لرې لرې پورې خوره شوي وه، د ملک لوئ لوئ عُلَماء او وزیران او مُشِیران به د هغوئي په درس کښې حاضریدل او د عِلمِ دِین برکتونه به ئې حاصلول.(1)

په امام غزالي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه باندې د **الله** کریم لوئي فضل و کرم وو، **الله** پاک د شروع نه هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه ته د عِلمِ دِین شوق، د حق د تلاش طلب او د **الله** پاک د قُرب حاصلولو شوق عطا کړے وو. امام غزالي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه چې بغداد ته راغلو نو ډیر شُهرت ئې حاصل کړو، د علم په دُنیا کښې ئې لوئي مقام حاصل کړو خو زړه ئې لا تر اوسه پورې بے قراره وو، چنانچه د کتابونو نوره مطالعه ئې شروع کړه، آخر چې کله ئې د تصوف کتابونه اولوستل نو زړه ئې د دُنیا نه بیزاره شو، هغوئي ته معلومه شوه چې د **الله** پاک قُرب په مُقام او مرتبه او شُهرت کښې نه دے بلکه د دُنیا نه مخ اړولو او د خپل زړه په اِصلاح کولو کښې دے، چنانچه هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه شان و شوکت، عِزَّت او مرتبه، اوچت منصب، شُهرت

---

1... فیضانِ امام غزالی، صفحہ: 15-22، ملتقطاً

او مقبوليت هر څه پرېښودل، د صوفياء لباس ئې واغوستلو او د مُجاهداتو د پاره شام ته روان شولو.(1)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د امام غزالي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ هِمَّت اوګورئ! داسې عِزَّت او شُهرت، مُقام او مرتبه چې لوئ لوئ عُلَماء به ورته د شاګرد په طور مخې ته کښيناستل، وزيرانو او مُشِيرانو به ئې ادب کولو، داسې شان و شوکت يو دم پرېښودل آسانه خبره نه ده بلکه د لوئ هِمَّت او حوصلے خبره ده.

لِــهذا مونږ ته هُم پکار دي چې صرف په دُنيا او مال و دولت پسې منډې نه وهو، هر وخت په دې فِکر کښې اخته نه اوسو چې ګنې که يو څو ورځې کار مې بند شو يا کم شو نو بچي به مې څه خوري، کار به مې تباه شي، دا ټولې شيطاني وسوسے دي، مونږ ته د خپل مرګ وخت نه دے معلوم، هسې نه چې مونږ په اوګږدو اوګږدو اميدونو کښې اخته يُو او مرګ ناڅاپه راشي او د نيکو خزانه ځان سره وړلو نه محرومه پاتې شو، اوګورئ! امام غزالي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ ته **اللّٰه** پاک دومره عِزَّت او شُهرت ورکړے وو، هغوئې د جامعه نظاميه د ټولو نه لوئې اُستاذ وو، د هغوئې هُم بال بچي وو، خو د هغوئې د پاره د خير دروازه برسيره شوي وه، د وخت بادشاه ورته سوال زاري کوي چې محترمه! تاسو مه ځئ، خو هغوئې هيڅ چا ته هُم اُو نه کتل [بال بچي ئې ځان سره کړل] او شام ته لاړلو ګوشه نشين شولو، بيا **اللّٰه** پاک په هغوئې هغه کرم اوکړو چې د خپل قُرب [يعني نزديکت] دروازے ئې ورته برسيره کړې او د وِلايت اوچته مرتبه ئې ورعطا کړه، صِدِّيقِيَت د وِلايت د ټولو نه اوچته مرتبه ده او امام غزالي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ ته **اللّٰه** پاک د صِدِّيقِيَت مرتبه عطا کړي وه. ځکه مونږ ته هُم د **اللّٰه** پاک نه پوخ اُمِّيد ساتل پکار دي چې که مونږه د دِين کار کوو، عِلمِ دِين حاصلوو او

---

1...فيضانِ امام غزالی، صفحہ:27 ملخصاً۔

خپل آخرت بهترولو د پاره د خپل کار روزګار، مزدورئ، دُکاندارئ، زمیندارئ وغیره نه وخت اوباسو او د دعوتِ اسلامي **مَدَني قَافِلو** کښې سفر اختیار کړو، د دعوتِ اسلامي هفته واره اِجتِماع کښې پابندئ سره شرکت کوو، په مَدرَسةُ الْمَدِينه (بالغان) کښې شرکت کوو، علاقائي دوره کښې شرکت کوو وغیره وغیره نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ زمونږ په دُنیاوي کار روزګار کښې به هُم **الله** پاک برکتونه واچوي او د آخرت ګټه به هُم حاصله کړو.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## امام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د پیرِ کامِل په دربار کښې

امام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوچته مرتبه لرونکے عالِمِ دِين وو، چې کله هغوئي د طریقت په لاره کښې قدم کیښودلو نو په دې باره کښې ئې ډیر غور و فِکر اوکړو، هغوئي ته معلومه وه چې دا لاره ډیره سخته ده، لِهذا د پیرِ کامِل د رهنمائي نه بغیر په دې لاره تلل او کامیابي حاصلول نامُمکِنه دي، چنانچه هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د شیخ علي **فارْمَذِی** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضر شو، خپل ټول عِلمِیت او مقام او مرتبه وغیره ئې یو طرف ته کیښودل او خالي زړه د پیرِ کامِل په اِطاعت او فرمانبردارئ کښې مصروفه شو . علّامه تاجُ الدِّين سُبکي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: شیخ علي **فارْمَذِی** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به چې امام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته د کومو اَورادو او وظائفو، عباداتو، ریاضاتو او مجاهداتو حُکم کولو، هغوئي به استقامت سره په هغې عمل کولو، تر دې چې **الله** پاک هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مقصود ته اورسولو. (1)

**اے عاشقانِ رَسُول، و عاشقانِ اولیاء!** سوچ اوکړئ چې د امامِ غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په شان ماهِر عالِمِ دِين ته هُم د طریقت په لاره کښې د پیر ضرروت وو نو مونږ ته به څومره ضرورت

---

[1] ...سِيَرُ اَعْلَامِ النُّبَلَاء، جلد:14، صفحه:321ملخصًا۔

وي؟ **اللّٰه** پاک په شپږمه سیپاره، سورۂ مائدہ، آیتِ نمبر **35** کښې اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| **یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَ ابْتَغُوْۤا اِلَیْهِ الْوَسِیْلَةَ** (پ ٦، المآئدۃ: ٣٥) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان : اے ایمان والؤ! د **اللّٰه** نه اُویَریږئ او د هغه طرف ته وسیله اولټوئ. |

**حکیمُ الاُمَّت مُفَسِّرِ قرآن** حضرت مُفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ د دې آیت نه لاندې لیکي: [د هغې مفهوم دے] د هر څیز د تلاش د پاره دروازے جُدا جُدا دي، د هرې سُوادا د لټون د پاره بازارونه او دُکانونه جُدا جُدا دي، د هغه څیز د لټون د پاره هغه دروازو، هغه دوکانونو او بازارونو ته تلل ضروري وي، که د **اللّٰه** پاک بارګاه ته رسیدل غواړئ نو د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دروازے ته ورشئ، او که د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دربار ته رسیدل غواړئ نو د اولیائے کرامو دروازے ته ورشئ. [1] نور فرمائي: په دې آیت کښې د تقویٰ نه پس د وسیلے تلاش کولو حُکم ورکړے شوے دے ځکه چې یو مُتَّقِي هُم که د تقویٰ هرې درجے ته اورسي د وسیلے نه نه شي بے نیازه کیدلے، لِهذا یو مُتَّقِي مسلمان دِ دا نه ګڼړي چې زه خو مُتَّقِي شوے یم، اوس ما ته **اللّٰه** تعالیٰ ته رسیدلو د پاره د وسیلے ضرورت نشته، څنګه چې هر مُؤمِن د اعمالو او تقویٰ حاجت مند دے، هُم دغسې هر مُتَّقِي د وسیلے مُحتاج دے. [2]

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!    صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د امام غزالي تجدیدي کارنامے

امام غزالي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ زیات و کم **11** کالو پورې ګوشه نشین اوسیدلو او د **اللّٰه** پاک عبادت

---

1 ...تفسیر نعیمی، پارہ:6، سورۂ مائدہ، تحت الآیۃ:35، جلد:6، صفحہ:402ملخصًا۔

2...تفسیر نعیمی، پارہ:6، سورۂ مائدہ، تحت الآیۃ:35، جلد:6، صفحہ:394ملتقطًا۔

او رِياضت به ئې كولو، په دې دوران كښې څه فِتنو سر راپورته كړو، د هغه فتنو د مقابلے د پاره د يو ماهر عالِم ضرورت وو، چنانچه د هغه وخت بادشاه امام غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ته خط اوليكلو او درخواست ئې اوكړو چې خلوت نشيني پريږدئ او بغداد ته تشريف راوړئ او اُمَّت ته د فِتنو نه نجات وركړئ. د بادشاه په بيا بيا درخواست كولو باندې اِمام غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د بعضې صوفياء سره مشوره اوكړه، ټولو هُم دا اُووئيل چې اوس د ګوشه نشينئ وخت نه دے بلكه اوس د فتنو د مقابلے او اُمَّت د ګمراه كيدلو نه د بچ كولو وخت دے، بعضې صوفيائے كرامو ته غيبي اشارے هُم ملاو شوې چې اوس ګوشه نشيني پريښودل ضروري دي، چنانچه امام غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه دوباره د درس و تدريس مَسنَد ته تشريف راوړلو او د فِتنو په مخ نِيوي كښې مصروف شولو.

امام غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په يو وخت كښې په درې محاذونو باندې د فِتنو مقابله اوكړه:

﴿۱﴾ په هغې كښې وړومبے محاذ اَهلِ فَلسَفه وو، د امام غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په دور كښې فَسلفه په عُرُوج وه او فَلسفيانو به اسلام د عقل په تله تللو او په قرآنِ مجيد، حديثونو او د اسلام په بُنيادي عَقائدو باندې ئې قِسماقِسم اعتراضات كول، امام غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ميدان ته تشريف راوړلو او په نهايت تحقيقي انداز ئې د فلاسفه د اعتراضاتو رد اوكړو او د فلسفے په بُنياد ئې عقلي اعتراضات هُم قائم كړل او په دې باره كښې ئې د كتابونو ليكلو په ذريعه د اسلام حفاظت اوكړو.

﴿۲﴾ هُم دغسې د امام غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په دَور كښې فِرقۀ باطِنيه هُم په عُروج وه، دا فِرقه هُم د اُمَّت د ګمراه كولو د پاره د اسلام بنيادي عَقائدو بدلو او د خپلو باطِلو تعليماتو په عام كولو كښې مصروفه وه، امام غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دغه ګمراه كُن فرقے هُم په سختئ سره رد اوكړو او د اُمَّت د عَقائدو حفاظت ئې اوكړو.

﴿۳﴾ دریم لوئ او اَهم محاذ چې په هغې امام غزالي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ کار اوکړو، هغه د عوامو عملي تنزُلي [یعني کمزوري] وه. د امام غزالي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په دَور کښې معاشره په غلطو لارو روانه وه، د هغې طرف ته امام غزالي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په صحیح وخت تَوجُّه اوفرمائیله او د معاشرے د اصلاح د پاره ئې ملا اوتړله، د دې کار د پاره امام غزالي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ **اِحۡیَاءُ الۡعُلُوۡم** اولیکلو، **کِیمیائے سعادت**، **مکاشَفَةُ القُلُوب** او **منهاجُ الۡعَابِدِین** ئې اولیکل چې د زړه اصلاح به څنګه کیږي، مونږ به عبادت ګُزاره څنګه جوړیږو، د نفس قابو کولو څه طریقه ده، د شیطان مقابله څنګه کول دي، کوم کوم څیزونه جَهنَّم ته بوتلونکي دي، د جَنَّت کومه لار ده، د **اللّٰه** پاک قُرب به څنګه حاصلیږي؟ باطني بیمارو نه به نجات څنګه حاصلوو، د یو کس خپله اصلاح به څنګه کیږي، د خاندان اصلاح به څنګه کیږي، د معاشرے اصلاح به څنګه کیږي، دا ټولې خبرې امام غزالي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په خپلو کتابونو کښې لیکلي دي، امام غزالي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ خانقاه جوړه کړې وه، مدرسه ئې تعمیر کړې وې، محفلونه به ئې قائمول، درس به ئې ورکولو، بیان به ئې کولو، خلقو ته به ئې آخرت وریادولو او په قرآن و حدیث باندې د عمل دعوت به ئې ورکولو.[1]

## د امام غزالي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د تعلیماتو خلاصه

راځئ چې د امام غزالي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د کتاب "**منهاجُ الۡعَابِدِین**" په رنړا کښې د اصلاح یو څو مَدَني نکات واورو: "**منهاجُ الۡعَابِدِین**" د امام غزالي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ آخري تصنیف دے، د دې کتاب بُنیادي نُکته د **سُوۡرَۃُ الذّٰرِیٰت** آیت نمبر 56 دے، **اللّٰه** پاک اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ مَا خَلَقۡتُ الۡجِنَّ وَ الۡاِنۡسَ اِلَّا | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: او ما پیریان او انسانان |

[1]... فیضانِ امام غزالی، صفحہ:65، بتغیر قلیل۔

| | |
|---|---|
| لِيَعْبُدُوْنِ ﴿٥٦﴾ | صرف د دې د پاره پيدا کړي دي چې زما عبادت اوکړي. |

په دې آيت باندې به مونږ ځنګه عمل کوو چې عبادت ګُزاره جوړ شو؟ د دې د پاره امام غزالي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه څوارلس څيزونه بيان کړي دي، چې په بنده کښې دا 14 څيزونه پيدا شي نو هغه به واقعي عبادت ګُزار جوړ شي.

**په هغې کښې وړومبے څيز:** عبادت ګُزار هُم هغه کس جوړيدے شي څوک چې عِلم لري، چا ته چې دا نه وي معلومه چې کوم کوم څيزونه عبادت دے او کوم کوم څيزونه عبادت نه دے نو هغه به عبادت ګُزار ځنګه جوړ شي؟ بيا کوم څيز دے چې په هغې عبادت ضائع کيږي، کوم څيزونه عبادت په ګناه کښې بدلوي، کوم څيزونه داسې دي چې پخپله عبادت نه دي خو هغه ځنګه په عبادت کښې بدل کړے شي، بنده چې خپل د روزانے کارونو له څي راڅي هغه ځنګه په عبادت کښې بدل کړي. نو چې بنده ته دا ټول علم وي نو هغه به د خپل وخت صحيح اِستعمال کولے شي او که دا علم نه لري نو دا هر څه به ځنګه اوکړي؟ امام غزالي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه حديثِ پاک نقل کوي چې: نبيِّ کريم رَءُوْفٌ رَّحِيْم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: اَلْعِلْمُ اِمَامُ الْعَمَلِ وَالْعَمَلُ تَابِعُهٗ عِلم د عمل اِمام دے او عمل د هغې تابِع دے. [1]

**دويم څيز:** بيا عِلم دوه قِسمه دے: (۱) يعني هغه عِلم کوم چې صرف د ژبې پورې وي، زړه ته نه کوزيږي، د دې عِلم هيڅ فائده نشته، دا به په ورځ د قيامت د انسان خلاف

---

1... ترغيب وترہيب، صفحہ: 43، حديث: 8 بتغير قليل۔

ګواهي ورکوي (۲) دويم علم: عِلۡمٌ فِی الۡقَلۡبِ يعني هغه علم چې په زړه کښې دے.[1] دا اصل علم دے، چې کله دا عِلم حاصل شي نو بنده په خپلو اعمالو پوهه شي، خپل ګناهونه ويني، خپلې خطاګانې ورياديږي، د قبر منظر ئې د سترګو په وړاندې وي، قيامت ورياديږي، د الله پاک په بارګاه کښې د پيش کيدلو منظر ورياديږي، بيا بنده په زړه کښې پښيمانه او شرمنده شي، د خپل ځان نه ئې کرَکه اوشي، د سترګو نه ئې اُوښکې روانې شي او زړه ئې بے سکونه شي، امام غزالي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: بيا دِ بنده غُسل اوکړي، صفا جامے دِ واغوندي، يواځې ځائے ته دِ لاړ شي، صَلٰوةُ التَّوبَه [يعني د توبے لمونځ] دِ اوکړي او په سجده کښې دِ الله کريم ته د زړه د اخلاصه توبه اوکړي، آئنده کله د ګناه نه کولو پخه وعده دِ اوکړي او د نيکو کولو د نوي ژوند تيرولو پخه اراده دِ اوکړي، که قضا لمونځونه، روژے او مالي حقوق ئې په ذِمه وي نو هغه دِ ادا کړي، که چا ته ئې تکليف رسولے وي نو معافي دِ ترينه واخلي، دغسې بنده د ګناهونو نه پاک شو، اوس د عبادت په لاره تللو د پاره تيار دے. [2] خو اوس به د هغه مخې ته څلور غټ رُکاوټونه ولاړ وي:

**<u>وړومبے رُکاوټ: دُنيا</u>**: مَثَلًا وسوسے به ورځي چې دا عبادتونه چې زه کووم او په دې کښې دومره وخت ورکووم، ❁ دا چرته زما دُنياوي ترقئ کښې رکاوټ جوړ نه شي، زما د دُنياوي مستقبل به څه کيږي ❁ زما اميدونه به څنګه پوره کيږي ❁ لوئ سړے جوړيدل غواړم، فلانکئ عُهدے ته رسيدلم غواړم، څنګه به رسيږم ❁ کِيره مې پريښودله، عمامه مې په سر کړه، جُمات ته ځم راځم، معاشره به ما ته په څه نظر ګوري، نکاح يعني واده به مې اوشي که نه؟ وغيره.

---

1... جامع علوم و حِکَم، صفحہ: 351۔

2... منہاج العابدین، دوسرا باب، توبہ کے بیان میں، صفحہ: 73 ماخوذاً۔

امام غزالي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي چې د دې ټولو خبرو علاج دا دے چې د دُنيا په ځائے دِ آخرت ته ترجيح ورکړے شي، اَمِيرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: دُنيا ختميدونکې ده او آخرت باقي پاتې کيدونکے دے، د دې دواړو طلبګار شته دے، اے خلقو! دُنيا والا مه جوړيږئ! آخرت والا جوړ شئ....! نن د عمل وخت دے، د حساب نه، صبا به د حساب ورځ وي، عمل به نه شئ کولے. (1)

**دويم رکاوټ: خلقو سره ناسته ولاړه:** چې د عبادت په لاره راځئ نو يقيناً عبادت له به وخت ورکوئ خو بيا وسوسے پيدا شي چې سيل تفريح، ګپ شپ، سوشل ميډيا دا هر څه خو به پاتې شي، نو ياد ساتئ چې کوم دوستان يا خپلوان [بِلا اجازتِ شرعي] په عبادت کښې رُکاوټ جوړيږي نو هغه دراصل دوستان نه بلکه دُشمنان دي، نو په داسې صورت کښې ورځ د قيامت او ميدان محشر ياد کړئ چې هلته به هر سړے نفسي نفسي وائي، مور و پلار خويندې ورونړه او بال بچي به د يو بل نه ځان خلاصوي او څوک به يو بل ته يوه نيکي ورکولو ته تيار نه وي، نو دغه وخت به د خلقو په وجه په دُنيا کښې د عبادت نه محرومه کيدلو والا څومره افسوس کوي، چنانچه **الله** پاک په قرآنِ پاک کښې اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| يٰوَيْلَتٰى لَيْتَنِىْ لَمْ اَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيْلًا (۲۸) (پ۱۹، سورۃالفرقان:۲۸) | [مَفھُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: هائے زما خرابي، کاش چې ما په څه طريقه فلانکے دوست نه وے جوړ کړے. |

**دريم او څلورم رُکاوټ: نفس و شيطان:** شيطان خو هُم دا غواړي چې بنده د عبادت نه لرې اوسي ځکه بنده ته قسما قِسم وسوسے ور اچوي او نفس هر وخت د خوندونو او

1...بخاری،کِتَابُ الرِّقَاق،صفحہ:1581۔

سهولتونو خواهش مند وي، بالکل عبادت ته نه تياريږي، د دې علاج دا دے چې شيطان سره جنګ اوکړے شي او په نفس باندې په زور د عبادتونو بوج ور واچولے شي.

چې کله بنده د دې ټولو رُکاوټونو علاج اوکړي او د دې نه ځان خلاص کړي او د عبادتونو په لاره روان شي نو بيا څلور قسمه نور رُکاوټونه مخې ته راشي او بيا د هغو په وجه په عبادت کښې تَوجُّه خرابه شي:

اول رِزق: مَثَلًا په لـمانځه کښې هُم د دُکان خيال ورځي، زړه ئې په کاروباري معاملاتو کښې نښتے وي، د بچو فکر اخستے وي، د ضروورياتو او خواهشاتو خيالونه ورځي، په عبادت کښې ئې زړه نه لګي، په دې حالاتو کښې بنده د عبادت نه په شا کيږي خو هغه له پکار دي چې عبادت نه پريږدي بلکه په **الله** پاک باندې تَوکُّل اختيار کړي، **الله** پاک اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ ؕ | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: او څوک چې په **الله** تَوکُّل اوکړي نو هغه له **الله** کافي دے. |

**دويم: فضول خيالات او سوچونه**: بيا بنده په مختلفو خيالاتو کښې ګير شي، بنده په دې ويره کښې اخته شي چې که زه د عبادت په لاره روان شم نو زما د کور د کسانو به څه کيږي؟ هائے! چرته ديوال راباندې راپرينوځي! چرته اوس په دې ساعت مړ نه شم، غرض دا چې د کومو خبرو نه بنده يَريږي د هغې خيالات ئې په زړه کښې راځي. د دې علاج دا دے چې بنده دِ خپل ټول معاملات **الله** پاک ته حواله کړي او دا دِ اُووائي: څنګه چه **الله** پکا اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَاُفَوِّضُ اَمْرِيْۤ اِلَى اللّٰهِ ؕ | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: او زه خپل کار **الله** ته سپارم. |

**<u>دريم او څلورم: دُنيوي تکليفونه او قضائے اِلٰهی:</u>** بنده چې کله د عبادت طرف ته مُتَوَجِّه شي نو څو څو قِسمه مصيبتونو کښې اخته کيږي، خلق پيغورونه ورکوي، بد رد ورته وائي، قسما قِسم تکليفونه ورکوي، دغسې کله بيمار شي، کله يو تکليف کله بل تکليف، کله تنګدستي، کله بے روزګاري، کله کورنئ پريشانئ، کله بيروني مسائل، د دې ټولو علاج دا دے چې بنده صبر کوي او د **الله** پاک په رضا راضي اوسي، اِنْ شَآءَالله د **الله** پاک خاص مدد او نُصرت به ئې نصيب شي، **الله** پاک اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۵۳﴾ | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان : بيشکه **الله** صبر کوونکو سره دے. |

چې کله بنده دا څلور کارونه اوکړي نو بيا يوه مسئله دا پيښه شي چې استقامت نه مُومي، نفس ئې سُستي کوي، نيکو ته ئې رَغبت نه پيدا کيږي، په نيکو اعمالو کښې ئې زړه نه لګي، د دې علاج دا دے چې بنده دِ په ځان کښې خوف [يعني د **الله** ويره] او رَجا [يعني اُمِّيد] پيدا کړي، يعني د نيکو په بدله کښې د حاصليدونکي ثواب اُمِّيد دِ ساتي، جَنَّت او د هغې نعمتونه دِ ياد کړي، د **الله** پاک د انعاماتو تَصَوُّر دِ په ذهن کښې پوخ واچوي، د نيکو اعمالو د فضائلو مطالَعه دِ کوي او ورسره ورسره دِ د جَهنَّم د عذاباتو او د قبر او د **الله** پاک د ناراضئ تصور اوکړي، د حشر ګرمي دِ راياده کړي او په زړه کښې دِ د **الله** پاک ويره راپيدا کړي نو اِنْ شَآءَالله تعالیٰ په عبادت به ورته اِستِقامت حاصليدل شروع شي.

بيا چې کله بنده د خوف و رَجا په ذريعه د عبادت په لاره روان شي نو بيا ورته شيطان ډير په قلاره چال باندې په زړه کښې رياکاري او خود پسندي ور اچوي، د رياکارئ علاج اخلاص دے چې بنده صرف د **الله** پاک د رضا د پاره عبادت کوي او د **الله** پاک احسانات ياد لري، د هغه نعمتونه ياد لري او دا سوچ دِ اوکړي چې که **الله** پاک ما له توفيق

نه وے راکړے نو ما چرته عبادت کولے شو، څومره خلق داسې دي چې د جُمات په طرف هُم نه ورځي او **اللّٰه** پاک ما ته خپلې بارګاه ته د حاضرۍ توفیق راکوي نو په دې کښې زما هیڅ کمال نشته بلکه دا ټول صرف د **اللّٰه** پاک په توفیق دي او د هغه **جَلَّ شَانُهٗ** احسان او فضل و کرم دے.

چې کله بنده په دې ټولو کنډوونو واوړي نو بیا د شُکر مرحله راشي چې بنده دِ د **اللّٰه** پاک شُکر ادا کړي، د هغه **حَمۡد** [ثناء صفت] دِ اُووائي ځکه چې ناشُکري بنده تباه او برباد کوي، لکه بَلعَم بِن باعُورا څومره لوئ عبادت ګُزار وو، څنګه لوئ عالِم وو چې په زمکه ناست به ئې د لَوحِ مَحفُوظ لیک لوستلو، دُعاګانې به ئې قبلیدلې خو هغه چې ناشُکري اوکړه نو د ناشکرۍ د سزا په نتیجه کښې د دُنیا نه کافِر لاړو او د همیشه همیشه د پاره د جَهنَّم خشاک جوړ شو.

نو اے د جَنَّت طلبګارو!! عبادتونه هُم کوئ، نیک اعمال هُم کوئ، نیک انسان هُم جوړ شئ خو ناشُکري مه کوئ او د خپل **ربّ** تعالیٰ شُکر ادا کول هیڅ کله هُم مه هیروئ. **اللّٰه** پاک دِ مونږ ټولو ته د نیک جوړیدلو او نورو ته د نیکۍ د دعوت ورکولو توفیق رانصیب کړي. **اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِین** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

## دولسو دیني کارونو کښې یو دِیني کار: نیک اَعمال

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** دې د فساد ډک دَور کښې امیرِ اَهلِسُنَّت بانيِ دعوتِ اسلامی حضرت علامه مولانامحمدالیاس عطارقادری رَضَوِي دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه د امام غزالي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه فیضان ډیر عام کړے دے، هغوئي دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه اما غزالي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه سره ډیر مَحَبَّت لري، د هغوئي د کتابونو مطالَعه کوي او په هغې عمل کوي او نورو ته هُم د هغوئي د کتابونو لوستلو او په هغې د عمل کولو درس ورکوي. **اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه** د امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه په

خواهش د دعوتِ اسلامي عِلمي او تَحقیقي شُعبے **اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ** د امام غزالي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د کتابونو اُردو ترجَمه کړي ده او **مَکْتَبَۃُ الْمَدِینه** دغه کتابونه چاپ کړي هُم دي، تاسو هُم د امام غزالي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ کتابونه مَثَلًا "**اِحْیَاءُ الْعُلُوم**" "**مکاشَفَۃُ القُلُوب**"او "**مِنہاجُ الْعَابِدِین**" وغیره د **مَکْتَبَۃُ الْمَدِینه** نه هَدِیَّۃً طلب کړئ او د دې کتابونو د مُطالَعه کولو سعادت حاصل کړئ.

د اَمیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ دا خواهش دے چې د خوږ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هر اُمَّتي نیک جوړ شي، خپله اصلاح هُم اوکړي او د نورو د اصلاح کوشش هُم جاري ساتي. **اَلْحَمْدُ لِلّٰہ** د امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د دِیني، روحاني او عِلمي تجرباتو په رڼړا کښې جانشینِ امیرِ اَهلِسُنَّت الحاج عُبید رضا عَطّاري دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د "نیک اعمال" په نوم رساله مُرَتَّب کړي ده، دا رساله د اسلامي ورونړو، اسلامي خویندو، ماشومانو او طَلَبه د پاره جُدا جُدا ده. د اِسلامي ورونړو د "نیک اعمال" په رساله کښې 72 سوالات لیکلي شوي دي، مَثَلًا: آیا تاسو نن پینځه وخته لمونځونه د جَمعې سره ادا کړي وو؟ آیا تاسو نن **سُوْرَۂ مُلک** اولوستلو یا مو واوریدلو؟ آیا تاسو نن 313 ځله دُرُود شریف اولوستو؟ وغیره، تاسو هُم دا رساله د **مَکْتَبَۃُ الْمَدِینه** نه حاصله کړئ او هره ورځ وخت مقرر کړئ او د خپلو اعمالو د جائزه اخستلو په ذریعه د دې رسالے خانے ډکولو عادت جوړ کړئ، اِنْ شَآءَاللّٰه د دې په بَرَکت به په یو څو ورځو کښې په خپلو نیکو اعمالو کښې ترقي وِینئ او که **اللّٰه** پاک ته منظوره وه نو په نیکو به درته استقامت هُم نصیب شي.

## د مدني انعاماتو برکتونه

د فیصل آباد په خواو شا کښے د اوسیدونکي یو اسلامي ورور په یو نیم کال کښې داسې یوه ورځ نه ده تیره شوي چه هغه به پکښې د خپلو اعمالو جائزه نه وي اخستي،

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه  په نيكو اعمالو باندې د عمل كولو په بركت هغه ته سُوۡرَۃُ مُلۡك زباني ياد شوے دے. دغه شان د حيدرآباد سندھ يو اسلامي ورور ته د رَجَبُ الۡمُرَجَّب په مياشت 1426ھ كښې يوه شپه په خوب كښې د نبـي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شو. خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورته په خوب كښې څه داسې اوفرمائيل: څوك چې په دې مياشت كښې هره ورځ پابندۍ سره د نيكو اعمالو متعلق د خپلو اعمالو جائزه واخلي، اللّٰه پاك به د هغه بخښنه اوكړي.

نوټ: د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول كښې به ئې مخكښې "نيک اعمال" ته "مَدَني انعامات" وئيل-

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره كښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنۡشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوكړو هغه زما سره مَحَبَّت اوكړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوكړو هغه به جنّت كښې زما سره وي." (ابنِ عساكر ج٣ ص٣)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا　　جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا
جنّت كښې مې خپل جوړ كړه ګاونډي خوږه آقا

## د ناستې يو څو سنتونه او آداب

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! راځئ چې د ناستې يو څو سنتونه او آداب واورو: ✿ سُرِين په زمكه لګوئ او دواړه زنګونان اُودروئ او دواړه لاسونه ترينه چاپيره كوئ او په يو لاس بل لاس نيسئ، داسې كښيناستل هُم سُنَّت دي. (خو په

دې دوران کښې زنګونان په څادر وغیره پټول مناسب دي) (مِراٰۃُ المناجیح ج، ص) ❁ پرلت وهل هم د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه ثابت دي. ❁ کوم ځائے کښې چې څه لـمر او څه سورے وي هلته مه کښېنئ. د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې **خوږ نبـی** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: "چې کله په تاسو کښې څوك په سوري کښې وي او د هغه نه سورے رُخصت شي او هغه په څه لـمر او څه سوري کښې پاتې شي نو هغه له پکار دي چې د هغه ځائے نه پاڅي." (سُنَنُ اَبی داؤد، کتاب الادب باب فِی الجلوس بین الظل والشمس، الحدیث، ج، ص) ❁ **مخ په قبله کښېنئ.** (رَسائل عطّارِیّه، حصّه، ص) ❁ اعلٰی حضرت، امامِ اهلسنت، شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه ليکي: د پير او اُستاذ په نشست [يعني د ناستې په ځائے] باندې د هغوئي په غير موجودګئ کښې هم مه کښېنئ. (فَتَاوىٰ رَضَوِیّه، ج، ص) ❁ چې کله اجتماع يا **مجلس** ته لاړ شئ نو د **مخکښې** تللو د پاره **په خلقو د پاسه مه اوړئ** چرته چې ځائے وي هلته کښېنئ. ❁ **چې کله کښېنئ نو پيزار اُوباسئ** ستاسو ښپې به آرام مومي. (اَلجامِعُ الصَّغِیر، الحدیث، ص) ❁ د **مجلس** نه چې فارِغ شئ او دا دُعا درې ځله اولوَلئ نو ګناهونه به مو معاف شي. او کوم مسلمان ئې چې **مجلِسِ** خير او **مجلِسِ** ذکر کښې اولولي نو د هغه د پاره به په هغه خير مهر اولګولے شي. هغه دُعا دا ده: "**سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ**" تَرجَمه: ستا ذات پاك دے او اے اللّٰه! هُم تا لره دي ټول صِفتونه، ستا نه سوا هيڅ څوك د عبادت لائق نشته، ستا نه بخښنه غواړم او ستا طرف ته توبه کووم. (سُنَنُ اَبی داؤد، کتاب الادب، باب فِی کفارۃ المجلس، الحدیث، ج، ص) ❁ چې کله يو عالِم باعمل يا مُتَّقي کس يا سيِّد صاحب يا

مور و پلار راشي نو تعظيماً [يعني ادباً] اودريدل ثواب دے. ❁ حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ليکي: د بزرګانو په راتلو دا دواړه کارونه يعني تعظيمي قيام او استقبال جائز بلکه سُنَّتِ صحابه دے بلکه د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّتِ قولي دے. (مِراٰةُ المناجيح ج، ص)

اے زمونږه خوږه **الله** عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته د ناستې ولاړې په سُنَّتو او آدابو د عمل کولو توفيق راکړې. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

قِسماقِسم سنّتونه زده کولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه دوه کتابونه (۱) د۳ صفحو کتاب "بهارِشريعت" حصّه 16 او(۲) د 120 صفحو کتاب "سُنَّتیں اور آداب" او د اَميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ دوه رسالے "101 مدنی پھول" او "163 مدني ګلونه" هديةً واخلئ او اولولئ. د سُنَّتو د تربيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ

الۡحَبِيۡبِ الۡعَالِی الۡقَدۡرِ الۡعَظِيۡمِ الۡجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحۡبِهٖ وَسَلِّمۡ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه باندے) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبۡر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبۡر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَيِّدِنَا وَمَوۡلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمۡ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

1 ... افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

2 ... القول البديع، الباب الثانی، ص٢٧٧

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي،

---

1 ...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

2 ...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

**جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ**

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

**لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم**

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

---

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب في كيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵